# له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه د انصارو په اړه فرمایلي: «له دوی سره له مؤمن پرته بل څوک محبت نه کوي او له منافق پرته بل څوک له دوی سره دښمني نه کوي، څوک چې له دوی سره مینه وکړي، الله به ورسره مینه وکړي. او څوک چې " له دوی څخه نفرت وکړي، نو الله تعالی به پرې غضب نازل کړي

د البراء رضی الله عنه څخه روایت دی چې: له رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه روایت کوي چې هغه د انصارو په اړه فرمایلي: «له دوی سره له مؤمن پرته بل څوک محبت نه کوي او له منافق پرته بل څوک له دوی سره دښمني نه کوي، څوک چې له دوی سره مینه وکړي، الله به ورسره مینه وکړي. او څوک چې " له دوی څخه نفرت وکړي، نو الله تعالی به پرې غضب نازل کړي».

[صحیح دی] [متفق علیه دی]

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي چې د مدینې له انصارو سره مینه د کامل ایمان نښه ده. دا د اسلام او پیغمبر صلی الله علیه وسلم په ملاتړ او مسلمانانو ته په پناه ورکولو کې د دوی د مخکښ له امله، او د الله لپاره د دوی مال او ژوند قرباني کول او له دوی څخه کرکه کول د منافقت نښه ده. بیا رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل چې: څوک چې له انصارو سره مینه کوي، الله جل جلاله به ورسره مینه وکړي او چا چې له دوی سره دښمني وکړه نو الله جل جلاله به ورسره دښمني وکړي.

https://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/3438

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee